هفته نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق، مطابق ۱۳۸۱ هـ ش شماره مسلسل (۲۸۹) ماه جمادی الاول ۱۴۴۶ هـ ق مطابق عقرب ۱۴۰۳ هـ ش

د علم په حاصلولو کې هر ګام د پرمختګ په لور یو ګام دی.

# اشتراک سرپرست وزارت معارف
## در مراسم فراغت طالب العلمان جامعه عالیه نورالمدارس فاروقی در غزنی

محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف و هیئت معیتی شان در مراسمی فراغت ۳۷۰ تن طالب‌العلمان مدرسه «نورالمدارس» ولایت غزنی اشتراک نمود.

در این محفل با شکوه محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت وزارت معارف و سایراعضای هیئت، محترم الحاج مولوی میر نصیر احمد حسینی رئیس و ...

ص۲




## گشایش سیمینار آموزشی ومسلکی برای اعضای علمی انکشاف مسلکی معلمین ولایات جنوب شرق

در مراسم افتتاحیه سیمینار علمی و میتودیکی که برای اعضای علمی انکشاف مسلکی معلمین ولایات مربوط زون جنوب شرق کشور (پکتیکا، پکتیا، خوست و غزنی) که در ریاست معارف ولایت غزنی، دایر گردیده بود، ضمن حضور محترم الحاج مولوی سخاءالله سعید معین تعلیم و تربیه وزارت معارف و رئیس انکشاف مسلکی این وزارت، رئیسان معارف ولایات زون مذکور نیز حاضر بودند. محترم الحاج مولوی میرنصیر احمد حسینی رئیس معارف ولایت غزنی طی سخنانی در مورد اهمیت و نقش ظرفیت سازی کارمندان و اعضای مسلکی معلمین صحبت نموده، تدویر همچو برنامه ها را مهم خواندند.

بالنوبه سایر سخنرانان نیز در رابطه به موضوع صحبت نموده از شاملان سیمینار خواستند تا از داشته های علمی سیمینار یاد شده استفاده اعظمی نمایند.

در این سیمینار مجموعاً ۴۵۰ تن اعضای علمی از ولایات هم جوار ولایت غزنی اشتراک کرده بودند که از جمله ۱۱۰ تن آن ها مربوط انکشاف مسلکی ولایت غزنی بودند.




## دیدار رئیس معارف ولایت کنر با معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف

محترم مولوی محب الله حیدری رئیس معارف ولایت کنر در دیدار با محترم الحاج مولوی کرامت الله آخندزاده معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف، پیرامون کارکرد ها، پیشرفت ها و چالش های موجود ریاست معارف ولایت یاد شده با هم ملاقات و تبادل نظر نمودند.

در این دیدار، معین تعلیمات اسلامی وزارت معارف، ضمن ستایش از فعالیت های ریاست معارف آن ولایت، به رهبری آن ریاست اطمینان داد که پیشنهادات و مشکلات ریاست مذکور را با رهبری وزارت معارف، جهت جستجوی راه های حل، شریک می سازد.

در خاتمه رئیس معارف ولایت کنر از این که معین تعلیمات اسلامی این وزارت علی الرغم تمام‌مصروفیت های وظیفوی خویش، ایشان را به حضور پذیرفت، اظهار سپاسگزاری نمود.

سرلیکنه

## ماشومان باید د جسمي معلولیت له امله نه ځورول شي

زموږ په ټولنه او چاپېریال کې د یو شمېر ماشومانو او ځوانانو تر منځ یو بل ته له پېغور ځخه د ډکو الفاظو کارول یوه ناوړه پدیده ده چې له ډېرې مودې را په دېخوا موږ ته په میراث پاتې ده، ډېرې وخت دغه ناوړه پدیده ددې لامل شوې چې زیات شمېر ماشومان او ځوانان په بېلابېلو روحي ناروغیو اخته، له ټولنې او ملګرو کوښه او په پایله کې عقده یي او له ...

۲مخ

## د پوهنې وزارت پلاوی تر یو بریالي سفر وروسته له مالیزیا څخه هېواد ته راستون شو

د پوهنې وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس محترم الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب» په مشرۍ د یاد وزارت پلاوی، چې د مالیزیا له پوهنې مسئولینو، علماء کرامو او مهمو شخصیتونو سره د تجربو شریکولو او دوه اړخیزه همکاریو د استحکام او دوام په موخه یاد هېواد ته تللی وو بیرته افغانستان ته راستون شو.یاد پلاوي د خپل خو ورځني سفر پر مهال، د مالیزیا هېواد د علماوو شورا له مشر سربیره د پوهنې...

۲مخ

## په جوزجان کې د ۱۹ بابه ښوونځیو د بیارغونې چارې پیل شوې

د جوزجان ولایت په یو شمېر ولسوالیو کې د ۱۹ بابه ښوونځیو د ودانیو د بیارغونې چارې د یاد ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي سید حفیظ الله معتصم بالله او یو شمېر ځایي اوسېدونکو په ګډون د یوې غونډې په ترڅ کې پرانیستو وروسته پیل شوې.

د جوزجان ولایت پوهنې رئیس د یادو پروژو د پرانیستلو پر مهال وویل: د یادو ښوونځیو د بیارغولو لګښت څه د پاسه ۸ میلیونه افغانۍ اټکل شوی، چې د پوهنې وزارت له بودجې څخه تمویلیږي.

نوموړي په خپلو خبرو کې د ښوونیزو



آسانتیاوو شتون د نصاب او تدریسي بهیر په کیفیت کې خورا مهم وبلله او ډاډ یې ورکړ چې پوهنې وزارت به په دې برخه کې خپلو هلوځلو ته دوام ورکړي.

ځایي اوسېدونکو هم په خپلو سیمو کې د ښوونځیو پر بیا جوړېدو خوښي څرګنده او د دغه وزارت د رهبرۍ له هڅو یې مننه وکړه.

## پکتیا ولایت کې د ۳۱.۵ میلیونه افغانیو په لګښت د یو شمېر ښوونځیو د ودانیو بیا رغونه

د پکتیا ولایت پوهنې ریاست د چارواکو د معلوماتو په اساس د "واش" پروګرام په چوکاټ کې، د مرکز اروند د نوراناشه لومړني ښوونځي په ګډون د ۶ بابه ښوونځیو اړین ملحقات او احاطوي دېوالونه جوړ شوي دي، چې په رغونه یې ټولټال ۳۱،۵ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی دی.

د یادو پروژو د پرانیستلو پر مهال د دغه ولایت مرستیال والي محترم الحاج مولوي انعام الله صلاح الدین او پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالقیوم فاروقي د ټولنې په اصلاح کې د علم او زده کړې پر اهمیت خبرې وکړې او له خلکو یې وغوښتل، چې د هېواد له ښوونیز نظام څخه خپل مالي او معنوي ملاتړ ته دوام ورکړي.

په همدې حال کې د سیمې اوسېدونکو د هېواد بچیانو لپاره د دیني او عصري زده کړو د زمینې برابرولو په برخه کې، د پوهنې وزارت د مشرتابه له پاملرنې مننه وکړه.



## نیمروز کې د یو باب ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه

د نیمروز ولایت مرکز اړوند د مهاجر آباد په کلي کې د شهید عبدالله په نوم د یو باب عالي لېسې د نوې ودانۍ رغنیزې چارې بشپړې او د یاد ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي ګل احمد حقاني، د کډوالو چارو رئیس، علماءکرامو او قومي مخورو په حضور کې تر پرانیستو وروسته کټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د یاد ښوونځي ودانۍ چې ۱۶ درسي ټولګي، ۴ اداري خونې، لابراتوار، کمپیوټر ټولګي او نور اړین ملحقات لري په شاوخوا دوه نیم جریبه ځمکه کې د پوهنې په برخه کې د یوه همکار بنسټ لخوا د ۱۹،۶ میلیونه افغانیو په لګښت په دوه پوړونو کې په پاخه او اساسي...

۲مخ



**اشتراک سرپرست وزارت معارف در ...**

مسئولین ریاست معارف، علماء کرام، شماری از مسئولین ادارات محلی و شخصیت های فرهنگی ولایت غزنی نیز اشتراک داشتند.
در این محفل رئیس معارف ولایت غزنی در رابطه به وضعیت تعلیمی و تربیتی آن ولایت معلومات ارایه نمود.
سپس سرپرست وزارت معارف طی سخنان شان فراغت طالب العلمان را تبریک گفته و با بیان اهمیت تعلیم در جامعه، تصریح کرد: اسلام ما را به آموختن علم سفارش کرده است. زیرا عنصر اساسی پیشرفت فردی و اجتماعی علم است.
وی افزود: هدف ما این است که تدریس تعلیمات اسلامی را برای طلاب به معیار های عالی آن مهیا سازیم.

**ماشومان د هغوی د جسمي معلولیت او...**

کینې ډک لوی شي چې په پایله کې هم ځان او هم ټولنې ته په سترګوابن او سرخوږي بدلیږي.
الله جل جلاله انسانان په بېلابېلو څېرو او شکلونو پیدا کړي او دوی یې اشرف المخلوقات ګرځولي نو که خدای مه کړه، موږ د یو چا په څېره او شکل باندې ملنډې وهو دا بیا العیاذ بالله د خدای جل جلاله په خلقت باندې ملنډې وهل دي چې دا په خپل ذات کې لویه ګناه ده. یوه مسلمان ته نه ښایي چې بل مسلمان ورور په بدو الفاظو او نومونو یاد کړي او پدې توګه هغه توهین او تحقیر کړي، ځکه الله جل جلاله انسان اشرف المخلوقات پیدا کړی دی، پروردګار عالم د هیچا څېرې، پوست او قوم ته نه ګوري، بلکې د الله جل جلاله په وړاندې هغه څوک محبوب دی چې تقوا ولري.
په یو حدیث شریف کې راغلي دي چې ګران محبوب حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایي:
كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ مَالُهُ وَعِرْضُهُ وَدَمُهُ حَسْبُ امْرِئٍ مِنْ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ
(۳۴۳۸-۴۸۸۲-۴۹۱۷سنن ابوداؤد)
دمسلمان مال، نفس، عزت او آبرو پر بل مسلمان بالکل حرام دي، دیوسړي همدومره شر بس دی چې هغه خپل مسلمان وروسپک وګڼي.
لکه ځنګه چې په ناحقه د یو مسلمان وینه تویول په بل مسلمان حرام دي همدا رنګه د یو مسلمان آبرو تویول بل مسلمان ته حرام دي. نو یو مسلمان ته هېڅکله نه ښایي چې د خپل بل مسلمان ورور سپکاوی وکړي.
که یو څوک د خلکو لخوا په بدو الفاظو او القابو نومول کېږي که دا انسان کمزوری او عاجز وي او د مقابل لوري په وړاندې د دفاع توان ونه لري نو دا انسان ورو ورو له ټولنې ګوښه کېږي او په پایله کې په روحي او رواني ناروغیو اخته کېږي، کله چې دا انسان د خپل ځانه د دفاع توان پیدا کړي، د دې امکان شته چې د هغه کینې او حسد له امله چې دی په ماشومتوب او یا زلمیتوب کې د خلکو د ملنډو له امله ځوربدلی وو له خلکو په ډېره بې رحمی غچ واخلي.
له بل پلوه هغه ماشومان او کمکي ځوانان چې دوی په زده کړو بوخت وي که چېرې د ښوونځي او یا کلي په منځ کې له ورته حالت سره مخ کېږي د دوی استعداد به له منځه ځي او هیلې به له خاورو سره خاورې کېږي. همدا اوس زموږ په ټولنه کې یو زیات شمېر ماشومان له دې حالت څخه ځوریږي حتې چې ښوونځي ته له تګ څخه مخ اړوي. د بېلګې په توګه ځینې کسان چې ددوي د کورنی غړي په داسې دندو کې بوخت وي لکه نایان ( سلمان ) چې په اصل کې دوی د ټولنې خدمتګاران دي او د ټولنې وګړي د دوی د نه شتون له امله له ستونزو سره مخ کېږي خو له بده مرغه چې زموږ په ټولنه کې د ځینو خلکو له لوري دا ډول کسانو ته په سپکه سترګه کتل کېږي او خلک ملنډې پرې وهي په داسې حال کې چې که همدا نایان (سلمانان) نه وي د ټولنې وګړي به د ویښتانو د نه اصلاح له کبله به د ستونزو سره مخ شي، نو لازمه ده چې انسان که هر قسم جسمي عیب لري یا هم بېلابېل مسلک لري هغه ته د قدر په سترګه وکتل شي او درناوی یې وشي.
همدا اوس په ټولنه کې داسې ماشومان هم تر سترګو کېږي چې الله جل جلاله ښه استعدادونه ورکړي په ښوونځیو کې تل په ښو نمرو کامیاب شوي، خو له بده مرغه د خپلو ټولګیوالو د مسخرو له امله دېته اړ شوي چې ښوونځی پرېږدي او خپله راتلونکې تباه کړي. دا څومره د افسوس خبره ده چې موږ د داسې زده کوونکو استعدادونه په لوی لاس له منځه وړو او په راتلونکې کې هېواد د داسې کادرونو له شتون څخه محروموو. که د دا ډول ماشومانو اټکلي شمېر راواخلو زړګونو ته به ورسېږي د دوی په منځ کې ښایي داسې کسان شتون ولري چې که د دوی استعداد ته وده ورکړل شي ممکن په راتلونکې کې ستر عالمان ترې جوړ شي چې په نړۍ کې د ستر بدلون سبب وګرځي او داسې کړنې تر سره کړي چې د ټول مسلمه امت لپاره د ویاړ سبب وګرځي، خو له بده مرغه دوی د همدې بېځایه مسخرو او ملنډو له امله له ټولنې او خلکو جلا کېږي او د دوی استعداد له منځه ځي.
لله الحمد دا چې موږ او تاسو مسلمانان یو، نو ښایي چې داسې کړنې تر سره کړو ترڅو د یو چا د توهین او تحقیر لامل ونه ګرځي، د یوې مدرسې او ښوونځي زده کوونکي باید د یوې ټولنې د نورو وګړو لپاره الګو او مثال وي نه دا چې دوی د خپلو همځولو او ټولګیوالو د هیلو د وژلو سبب وګرځي، که څه هم چې د پوهنې محترم سرپرست په ډېرو غونډو او ناستو کې دا خبره په بار بار تکرار کړې او مسئولینو ته یې ددې ستونزې د مخنیوي لپاره په جدي توګه سپارښتنه کړې بیا هم د پوهنې وزارت مسئولین له ټولو محترمو استاذانو او ګلالیو زده کوونکو غواړي چې له دې ناوړه عمل څخه په کلکه ډډه وکړي او استاذان زده کوونکو ته په دې برخه کې عامه پوهاوی ورکړي، تر څو دا ستونزه له منځه لاړه شي.
د ټولنې هر وګړی چې د حلال کسب په واسطه خپلې کورنۍ ته رزق ګټي د قدر او ستاینې وړ دی. هیڅوک په ځانګړې توګه زده کوونکي او ښوونکي د دې حق نلري چې د ښوونځیو په ماحول کې یو څوک د هغوی د کسب او مسلک له امله توهین کړي. یا هم هغه ماشومان چې جسمي معلولیت ولري د نورو لخوا ورته په سپکه سترګه وکتل شي.
که چېرې خدای جل جلاله مه کړه نن د دې ناوړه دود مخه ونه نیول شي دا ناوړه پدیده راتلونکو نسلونو ته پاتې کېږي او په دې ډول کړنو به مو د ټولنې فضاء لا نوره ککړه شي.

**د پوهنې وزارت پلاوی تر یو ...**

مسئولینو، علماءکرامو او استادانو سره په دوه اړخیزه کتنه کې، د تعلیمي کیفیت پر لاپیاوړتیا، د ښوونیزو ستونزو په له منځه وړلو، فرصتونو او دوه اړخیزو همکاریو په تړاو خبرې اترې وکړې.
په دغو دوه اړخیزو کتنو کې د پوهنې وزارت د پلاوي مشر وویل: لله الحمد اوسمهال په افغانستان کې د ښوونې او روزنې په برخه کې د پام وړ پرمختګونه رامنځته شوي دي او د یاد وزارت تشکیل، تعلیمي کیفیت او فعالیتونه ورځ تر بلې د پراختیا په حال کې دي.
نوموړي زیاته کړه: د هېواد ټولو هغو برخو ته هم پوهنیز خدمات رسول شوي دي کوم چې په تېرو څو لسیزو کې د ښوونیزو چوپړونو څخه محروم وو او موږ ژمن یو، تر څو دغو پرمختګونو ته لاپسې چټکتیا او پراختیا ورکړو.
همدارنګه په یاد سفر کې د پوهنې وزارت پلاوي، د مالیزیا هېواد د پوهنې چارواکو په ملتیا، د یاد هېواد د ځینو مدرسو او ښوونځیو څخه لیدنه وکړه او له اړوندو مسئولینو سره یې د پوهنیز نظام د بنسټونو د استحکام او ښوونیز وضعیت په تړاو تفصیلي خبرې وکړې.
په همدې حال کې د مالیزیا هېواد د ښوونیزو مرکزونو مسئولینو، چارواکو او علماءکرامو د پوهنې وزارت د پلاوي له سفر څخه د تود هرکلي ترڅنګ، په افغانستان کې د ښوونیز نظام پر پیاوړتیا خوښي څرګنده کړه او د یاد نظام د بشري او تخنیکي برخو لاپرمختګ لپاره یې پر دوه اړخیزو همکاریو ټینګار وکړ.
په پای کې دواړو لوریو ژمنه وکړه، چې د تعلیمي مرکزونو د جوړولو او ښوونیز کیفیت لا لوړوالي په برخه کې به له یو بل سره همکاري کوي.

**نیمروز کې د یو باب ښوونځي...**

ډول جوړه شوې ده.
د نیمروز ولایت د پوهنې رئیس د یاد ښوونیز بنسټ پرانیستلو پر مهال، د پوهنې وزارت د ښوونیزو پروګرامونو په اړه ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل او له خلکو یې وغوښتل چې خپل اولادونه د علم او پوهې لپاره مدرسو او ښوونځیو ته واستوي.
نوموړي زیاته کړه، چې د یاد ښوونځي د ودانۍ په جوړېدو سره د سیمې په سلګونو زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېریال را منځ ته شوی، هغه همداراز وویل: د دغه ښوونځي په جوړېدو سره د زده کوونکو ستونزې په بشپړه توګه هوارې شوې دي او له مسئولینو او زده کوونکو یې وغوښتل چې د خپل ښوونځي د ودانۍ او وسایلو ساتنې ته جدي پاملرنه وکړي. له بلې خوا د سیمې خلکو د یادې موضوع په اړه خبرې وکړې او د پوهنې وزارت له پلانونو یې خپل ملاتړ اعلان کړ.

**د مدرسینو د...**

ورتیاوو او تدریسي میتودونو پیاوړتیا او د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د پوهنیز نظام کیفیت لوړول دي.
ورپسې د یاد وزارت د اسلامي زده کړو معین په خپلو خبرو کې د مدارسو د تأسیس، د بستونو د تخصیص، د مدرسینو لپاره د روزنیزو ورکشاپونو جوړولو او د دغه معینیت د لاسته راوړنو په اړه مفصل معلومات وړاندې کړل او د دغه ډول ښوونیزو پروګرامونو پر دوام یې ټینګار وکړ.
په ورته مهال د پوهنې وزارت د سرچینو او اداري معین په هېواد کې د پوهنې د کیفیت لوړولو په تړاو خبرې وکړې او د ښوونیز کیفیت لوړوالی یې د هېواد د راتلونکي ښوونیز نظام د لاپرمختګ یو مهم بنسټ وباله.
همدارنګه د یاد وزارت د مقام ستر سلاکار محترم شیخ مولوي سید غیاث الدین آغا په ګډون نورو ویناوالو هم خبرې وکړې او د افغانستان د پوهنیز نظام په لاپیاوړتیا کې یې د دغه وزارت د مشرتابه له هڅو ستاینه وکړه.

**سرپرست وزارت معارف عازم...**

آن ولایت مورد استقبال گرم قرار گرفت.
موصوف در دیدار با مسئولین وکارمندان ریاست معارف از دستاوردهای یومیه آن ها اطلاع حاصل نموده و از نزدیک امور اداری ریاست معارف را ارزیابی کرد.
در ادامه، وی از لیسه سیدال خان مرکز ولایت ارزگان دیدن نموده وخطاب به مسئولین ومعلمین آن لیسه گفت: شما معماران آینده هستید و امید داریم که الگوی خوب خدمت گذاری برای مردم رنج دیده خود باشید.
قرار است که سرپرست وزارت معارف در حاشیه سفر کاری خویش با علماء کرام، مدرسین، معلمین بزرگان قومی ولایت یاد شده از نزدیک دیدار نموده و وضعیت تعلیمی آن ولایت را ارزیابی همه جانبه نماید.
در خاتمه والی ارزگان و سرپرست وزارت معارف از تطبیق پروگرام ها و انکشاف پروسه تعلیمی این وزارت حمایت های شان را ابراز نمودند.

**لوګر کې د ...**

محترم مولوي محمد انور دین پرور، یو شمېر دیني علماءکرامو او قومي مخورو حضور درلود.
د پوهنې مسئولینو د معلوماتو له مخې د یادو بنسټونو د بیارغونې په پروژو کې د احاطوي دېوالونو جوړول، د پاکو اوبو څاګانو کیندل، د لمریزې برېښنا د سیستم نصبول، د ښوونځیو د انګړ کانکرېټ کول او داسې نور شامل دي.
مسئولینو په خپلو خبرو کې د هېواد د ماشومانو لپاره د پوهنې وزارت پراختیایي پلانونو ته په اشارې سره، د زده کړو په برخه کې د لازیاتو آسانتیاوو د برابرولو ډاډ ورکړ.
له بلې خوا د سیمې اوسېدونکو د هېواد بچیانو ته د زده کړو د آسانتیاوو برابرولو په برخه کې، د پوهنې وزارت د مشرتابه او مسئولینو له هلو ځلو مننه او قدرداني وکړه.

**میدان وردګ کې د ۳ مېلیونه افغانیو...**

یوې شاه، د لمریزې برېښنا سیستم او نور اړین ملحقات لري د پوهنې په برخه کې د یو همکار بنسټ په مالي مرسته د ۳ مېلیونه او ۷٦۰ زره افغانیو په لګښت په پاخه او اساسي ډول جوړ شوی دی چې ددې ښوونځي په جوړېدو سره د سیمې په سلګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې خوندي چاپېریال را منځ ته شوی.
په همدې حال کې د سیمې یو شمېر اوسېدونکو او قومي سپین ږیرو د یاد ښوونځي له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د پوهنې وزارت کړنې یې د علم او پوهې د ودې په برخه کې وستایلې.

**افتتاح ساختمان یک باب مدرسه...**

آرام و مصونیت کامل دروس شان را تعقیب نمایند.
شماری از علماء کرام و بزرگان قومی نیز در سخنان شان کارکرد های وزارت معارف را در زمینه توسعه مراکز تعلیمی در کشور ستوده و از برنامه های آن حمایت نمودند.
رهبری وزارت معارف کمک های مردم از معارف را مورد ستایش قرار داده و از آن سپاسگزاری می نماید.

**د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست ...**

پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د پلاوي له ورتګ څخه خوښي څرګنده او ژمنه یې وکړه، چې د دغه ریاست د لاربښوونو سره سم به خپلې ورځنۍ چارې تنظیم کړي.
په ورته مهال د دعوت او ارشاد ریاست مسئولینو د پوهنې وزارت د مرکزي هستې کارکوونکو ته په اصلاحي وینا کې له هغوی څخه وغوښتل، تر څو خپلو مسئولیتونو او دندو ته په جدي ډول متوجې واوسي او د مراجعینو کارونه پرته له ځنډ څخه په ټاکلي وخت سرته ورسوي.
همدارنګه دعوت او ارشاد ریاست ته له کابل ښار او د ولایتونو له پوهنې ریاستونو څخه لاسته راغلي راپورونه ښيي چې په تېره اونۍ کې له ټاکل شوي مهال وېش سره سم د تعلیمي مرکزونو اړوندو کارکوونکو ته د دیني درسونو لړۍ په نورمال ډول روانه وه.

## لنډ خبرونه

### ننگرهار

اعضای شورای مکاتب و شماری از علماء کرام ولسوالی چپرهار ولایت ننگرهار مبلغ ۲۷۰ هزار افغانی را جهت بازسازی به مدرسه شهید ضابط خان درویش آن ولسوالی مساعدت نموده اند.
همچنان شماری از اولیای شاگردان برای تجهیز وسایل تخنیکی مکتب چهار باغ صفا در مربوطات ولسوالی سرخ رود، مبلغ ۱۱ هزار افغانی کمک کردند.

### بلخ

به همکاری باشنده گان خیرخواه و شوراهای مکاتب ولایت بلخ به هزینه ۱۲۰ هزار افغانی جهت ترمیم و تجهیز لیسه های مقصدالله شهید، عبدالقادرخُلمی، دقیقی بلخی و میرغلام محمد ربیع مرکز و ولسوالی های آن ولایت، مساعدت صورت گرفته است.

### میدان وردگ

شاگردان مبتکر لیسه عالی ذیولات ولسوالی جلریز ولایت میدان وردگ کارهای عملی تخنیکی شان را که شامل ساخت اسکواتور، طیاره، آب بازک، آب گرمی و لوازم دیگر را که با استفاده از وسایل ابتدایی ایجاد نموده انددر حضور مسئولین معارف و سایر ادارات محلی آن ولایت به نمایش گذاشتند.
در یک خبر دیگر انجنیر نجی الله یک تن از معارف دوستان مقیم ولسوالی بند چک ولایت میدان وردگ، به مصرف ۱۷۰ هزار افغانی سیستم برق آفتابی را با تمام وسایل تخنیکی آن در مکتب حضرت بلال رضی الله عنه ولسوالی یاد شده، مساعدت و نصب نموده است.

### فاریاب

د پوهنې وزارت او همکارو بنسټونو په مالي ملاتړ، د ۴۱.۸ مېلیونه افغانیو په ارزښت د فاریاب ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د ۱۹ بابه دارالعلومونو، مدارسو او ښوونځیو د بیارغونې پروژې پیل او د یو باب ښوونځي لپاره د بنسټ ډبره کېښودل شوه.

### پکتیا

په زرمت ولسوالۍ کې د یوه خیریه بنسټ په مالي ملاتړ، د ۱۶,۶ مېلیونه افغانیو په لګښت د خاتم الانبیاء دارالایتام لپاره نوې ودانۍ جوړه او د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

### بادغیس

د پوهنې وزارت د اساسي او ثانوي زده کړو رئیس مفتي محمد یوسف ثاقب بادغیس ولایت ته سفر وکړ. ددغه سفر موخه د ښوونکو د مسلکي پراختیا د پروګرامونو پلي کول، د ښوونکو د استخدام له بهیره څانګړې ډول د لرې پرتو سیمو کې څارنه، د پوهنې وزارت او مرستندویه بنسټونو ترمنځ د هوکړه لیکونو ارزونه او یو لړ نور مهم موضوعات په ګوته شوي.

### خوست

د پوهنې وزارت د تګلارې له مخې، په خوست ولایت کې له هغو ۸۰ تنو افغان کډوالو څخه د سویې د تثبیت آزموینه واخیستل شوه چې تازه له ګاونډیو هېوادونو څخه خوست ولایت ته راستانه شوي وو.

### بلخ

د پوهنې وزارت له لوري د بلخ ولایت په دولت آباد، چهار بولک، چهارکنت، کامل او چاهي ولسوالیو کې د ۴ زره تنو ښوونکو او زده کوونکو تر منځ د امارت پېژندنې د کتاب علمي سیالي ترسره شوه.

# د هېواد په سرو سیمو کې کلنۍ آزموینې پیل شوې

د هېواد په سړو سیمو کې د ښوونیز کال په پای ته رسېدو سره د ښوونځیو له سلګونو زره زده کوونکو څخه د آزموینې اخیستلو بهیر پیل شو.
ښوونکي او زده کوونکي د سږ کال ښوونیز کال د تېرو کلونو په پرتله مثبت ارزوي او وايي چې څومره کوښښ او زحمت چې دوی په تېر کال کې د زده کړو په بهیر کې ګاللی ښې پایلې به تر لاسه کړي.
د دویمې ناحیې اړوند د ذبیح الله شهید لېسې زده کوونکی مزمل وايي په هېواد کې د ښوونیز نظام د پیاوړتیا په برخه کې پوهنې وزارت د مسئولینو پاملرنه ددې لامل شوې چې ښوونیز نظام پیاوړی، کیفیت لوړ او په ښوونځیو کې نظم را منځ ته شي چې اوس دوی کولای شي په ډاډه زړه خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. هغه زیاتوي د کال په بهیر کې یې د درسونو په زده کړه کې کوښښ کړی او استاذانو هم په پوره اخلاص او صداقت سره دوی ته زده کړه ورکړې نو د کلنیو آزموینو پایلو ته هم ډېر هیله من دی چې په ښو نمرو به کامیاب شي.
احمد صابر د همدې ښوونځي بل زده کوونکی وايي چې د تېرو څلور نیم میاشتنیو آزموینو پایلو ته په کتو سره کوم مثبت ټکي یې چې درلودل تقویه او منفي ټکي یې په مثبت فرصت تبدیل کړل او کلنیو آزموینو ته یې پوره چمتوالی نیولی دی.
نوموړی زیاته کړه: د اسلامي امارت تر واکمنېدو



را پدېخوا د هر کال په تېرېدو سره د ښوونې او روزنې کیفیت ښه شوی دی او په ښوونځیو کې نظم د هرې ورځې په تېرېدو سره لا ټینګېږي.
احمد صابر له زده کوونکو غواړي چې د ښوونیز کال په بهیر کې تل خپلو زده کړو ته پام وکړي او د ښوونځي د کتابونو سربېره نور کتابونه هم مطالعه کړي تر څو په راتلونکې کې د هېواد او هېوادوالو د خدمت جوګه شي.
په همدې حال کې د ذبیح الله شهید لېسې محترم آمر نذیرآغا کوهستاني وايي چې آزموینې یې په ښه ډول پیل کړې او په روان کال کې استاذانو د زده کوونکو په ښوونه او روزنه کې په پوره ډول اخلاص کړی نو هیله لري چې زده کوونکي به له کلنیو آزموینو ښه نتیجه تر لاسه کړي. هغه زیاتوي چې ښوونیز نظام د هر کال په تېرېدو سره پیاوړی کېږي او تر پخوا د ښوونې او روزنې کیفیت د ښه کېدو په حال کې دی.
نوموړی وویل: په افغانستان کې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره په ټول هېواد کې امن او سوله راغلې چې په دې سره زده کوونکي کولای شي د امن په فضا کې خپلې زده کړې تر سره کړي. نوموړی همداراز وايي چې له شک پرته په هېواد کې د اسلامي امارت تر واکمنېدو را په دېخوا په ښوونځیو کې نظم او دسپلین پیاوړی شوی، امنیت ټینګ شوی او په ښوونځیو کې د نفاق اچونې مخه نیول شوې. دا هغه لاملونه دي چې پخوا یې په ښوونځیو کې د زده کړې بهیر له خنډونو سره مخ کړی وو.
نوموړي له زده کوونکو وغوښتل چې تر آزموینې وروسته باید له ژمنیو رخصتیو څخه مثبته ګټه واخلي او خپل وخت بې ځایه تېر نه کړي.
د یادونې وړ ده چې د پوهنې وزارت د لارښوونې له مخې ښوونیز کال د هېواد په سړو سیمو کې د پای ته رسېدو سره له لومړي تر درېیم ټولګي پورې کلنۍ آزموینه د ۱۴۰۳ کال د لړم میاشتې له ۲۶ مې نېټې څخه چې د ۱۴۴۶ کال د جمادي الاولې له ۱۴ مې نېټې سره سمون خوري پیل او د لړم میاشتې په ۳۰ مه چې د جمادي الاولې له ۱۸ مې نېټې سره سمون خوري پای ته رسېږي همدارنګه له څلورم تر دولسم ټولګي پورې کلنۍ آزموینه د ۱۴۰۳ کال د لیندۍ میاشتې له لومړۍ نېټې څخه چې د ۱۴۴۶ کال د جمادي الاولې له ۱۹ نېټې سره سمون خوري پیل او د لیندۍ میاشتې په ۱۵ مه چې د جمادي الثاني له ۳ مې نېټې سره برابره ده پای ته رسیږي.

## تقدیر از شاگردان ممتاز برنامه «ستاره ساینس» مکاتب شهر کابل

در رقابت های علمی ستاره ساینس و پروژه های ساینسی که چندی پیش از سوی ریاست معارف شهر کابل میان شاگردان مکاتب رسمی و خصوصی شهر کابل راه اندازی شده بود، پس از اعلام نتایج شاگردانی که در این مسابقات نمرات عالی را از آن خود کرده بودند طی محفلی از سوی مسئولین معارف مورد تحسین و تقدیر قرار گرفتند.
در این محفل علاوه از محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت وزارت معارف، محترم قاری عبدالباسط حقانی رئیس معارف، آمرین حوزه های تعلیمی، مسئولین مکاتب رسمی و خصوصی شهر کابل اشتراک داشتند.
رئیس معارف شهر کابل در بیانیه افتتاحیه محفل، پیرامون چگونگی رقابت های « ستاره ساینس و پروژه های ساینسی » شاگردان مکاتب شهر کابل، معلومات دقیق و همه جانبه ارائه نمود.
در ادامه معین تضمین کیفیت این وزارت نیز برای برندگان این مسابقات، موفقیت شان را تبریک گفته، تصریح کرد: وزارت معارف امارت اسلامی افغانستان با تمام توان در راستای بلندبردن کیفیت تعلیمی در کشور متعهد می باشد.




وی با اشاره به پیشرفت های اخیر تعلیمی در کشور، اذعان داشت: وزارت معارف به کیفیت، رشد متوازن و انکشاف علوم دینی و عصری در سراسر کشور، اهتمام جدی دارد.
به گفته مسئولین، در رقابت هایی که میان شاگردان مکاتب رسمی و خصوصی حوزه های تعلیمی مختلف شهر کابل راه اندازی شده بود، بعد از ارزیابی دقیق نتایج از سوی هیئت موظف، ۴ تن در بخش ستاره معارف پیشتاز شناخته شدند و هم چنان در بخش پروژه های ساینسی از هر حوزه تعلیمی، شاگردان سه مکتب آن حوزه در ردیف شاگردان ممتاز قرار گرفتند. محفل با توزیع جوایز و تحایف برای شاگردان برتر مسابقات یادشده پایان یافت.

## د پوهنې وزارت اداري لوی رئیس کاپیسا ولایت ته سفر وکړ

د پوهنې وزارت اداري لوی رئیس محترم مفتي شفیع الله «منصور» مراجعینو ته د لازمو آسانتیاوو برابرولو او د پوهنې په برخه کې د نورو مسایلو ارزولو په موخه، کاپیسا ولایت ته سفر وکړ.
نوموړي یاد ولایت ته د رسېدو پر مهال، د پوهنې له ریاست څخه لیدنه وکړه او د دغه ولایت د پوهنې له رئیس محترم مولوي محمد فرید حقاني سره یې په کتنه کې، د خپل سفر د موخو د پلي کولو په تړاو خبرې اترې وکړې.
د پوهنې وزارت اداري لوی رئیس د کاپیسا له پوهنې مسئولینو او کارکوونکو څخه وغوښتل چې د مراجعینو کارونه دې په ټاکلي وخت ترسره کړي، تر څو د هغوی د وخت ضایع کېدو مخنیوی وشي.
دغه راز د یاد ولایت پوهنې رئیس د پوهنې وزارت پلاوي ته د مراجعینو لپاره د لازمو آسانتیاوو برابرولو ډاډ ورکړ او د پوهنې ریاست مسئولین او کارکوونکي یې د دې چارې په عملي کولو کې ژمن وبلل.

## غزني کې د یو ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه

د غزني ولایت اړوند فیض محمد کاتب سیمه کې د یو خیریه بنسټ په ملاتړ د ۳،۶ مېلیونه افغانیو په لګښت د امام هادي په نوم ښوونځي نوې ودانۍ جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. دغزني د پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا دغه ښوونځی له ټولو اړینو ملحقاتو سره ۱۲ درسي ټولګي، یوه اداري خونه لري او په یو پوړ کې په پاخه او اساسي ډول جوړ شوی دی.
مسئولین زیاتوي په پام کې ده چې په راتلونکي کې د یادې ودانۍ دویم او درېیم پوړونه هم ورغول شي.
د سیمې اوسېدونکو د ښوونځي له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او په دې برخه کې یې د پوهنې وزارت د رهبرۍ له پاملرنې مننه وکړه.

## پکتیا ته د پوهنې وزارت د مالي او حسابداري رئیس سفر

د پوهنې وزارت د مالي او حسابداري رئیس محترم مولوي صدرالدین «سعد» په مشرۍ پلاوي پکتیا ولایت ته سفر وکړ.
ددې سفر په ترڅ کې د پوهنې وزارت د مالي او حسابداري رئیس د پکتیا ولایت له پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالقیوم فاروقي او آمرینو سره وکتل او د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د بودجې د حفظ او مناسب لګښت په اړه د خبرو ترڅنګ، د یو شمېر نورو مهمو موضوعاتو لکه، په مالي، لګښتونو او تدارکاتو مفصلې خبرې وکړې. په دې لیدنه کې د یاد ولایت پوهنې رئیس ورغلي پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او د دغه ریاست د بودجې د څرنګوالي او لګښتونو په اړه یې د دغه ریاست د کړنو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل، چې د مشرتابه پلاوي له لوري یې ستاینه وشوه. ټاکل شوې چې پلاوی به په دغه سفر کې د یاد ولایت د پوهنې ریاست د بودجې ستونزې په هر اړخیزه توګه وڅېړي.
د پکتیا ولایت پوهنې رئیس د دغه پلاوي د سفر د موخو د عملي کولو او هغوی ته د لازمو آسانتیاوو برابرولو په برخه کې د هر اړخیزو همکاریو ژمنه وکړه.

Newspaper
# Marif
Weekly

کتنپلاوی:
الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب» ،
مولوي عزیز احمد «ریان»
قاري منصور أحمد «حمزة»
احمد شعیب «حقیقی»
عبدالصبور «غفرانی»
محمد ابراهیم «ملهم»
معراج «زمانی»
محمد نسیم «عیاذ»
**مسئول مدیر:** سعید «جلال»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادریس «نوری»

**ډیزاینر :** محمد قسیم «یعقوبی»
**تیراژ:** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازی محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت
**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکې شمېره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 289 /2024


## سرپرست وزارت معارف عازم ولایت ارزگان شد

محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف موقع رسیدن به ولایت ارزگان در نشستی حضور یافت که علاوه از مولوی عنایت الله شجاع والی، شماری از مسئولین معارف، ادارات محلی، علماء کرام ولایت ارزگان نیز حاضر بودند.
موصوف در این دیدار در مورد بهبود وضعیت تعلیمی، اعمار مدارس ومکاتب جدید و یک تعداد مسایل مورد علاقه بحث‌های مفصل نمود.
در مقابل والی ارزگان در کنار خوش آمدگویی به سرپرست وزارت معارف به آن‌ولایت در رابطه به پروگرام های تعلیمی، برنامه های آینده، توانمندی ها وچالش ها، نظریات شان را با هم شریک ساخته و از بابت بهبود وضعیت تعلیمی، کارکرد های وزارت را ستایش نمود.
سپس سرپرست وزارت معارف به مقر ریاست معارف ولایت مذکور تشریف برد که از طرف مسئولین معارف...



۲مخ

## د مدرسینو د مسلکي پراختیا غړو د وړتیا لوړولو په موخه سیمینار پرانیستل شو

د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو معینیت د مدرسینو د مسلکي غړو د وړتیا لوړولو سیمینار، د پوهنې وزارت د سرپرست محترم الحاج مولوي حبیب الله «آغا»، د اسلامي زده کړو معین محترم الحاج مولوي کرامت الله «آخندزاده»، د سرچینو او اداري معین محترم مولوي صبغت الله وصیل او د دغه وزارت د یو شمېر مرکزي رئیسانو او کارکوونکو په حضور کې پرانیستل شو.
په پیل کې د پوهنې وزارت د دارالعلومونو رئیس محترم الحاج مولوي عبدالقدوس «قدوسي» د سیمینار په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او ویې ویل: د دغه سیمینار د پیلولو اساسي موخه، د مدرسینو د مسلکي ...

۲مخ




## لوګر کې د ۴ بابه ښوونځیو بیارغونې چارې بشپړې شوې

د لوګر ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایې چې د یاد ولایت په مرکز پل علم ښار کې د ملک شیر احمد کوچي او شلوک او په بره کې برک ولسوالۍ کې د مومندو او شیخانو ښوونځیو د ترمیم او بیارغونې چارې د یو همکار بنسټ په همکارۍ د ۲۱،۹ مېلیونه افغانیو په لګښت بشپړې او یاد ښوونځي ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.
د یادو پروژو د پرانیستنې په مراسمو کې د لوګر ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج عبدالرحمن حمیدي، مسئولینو، د ولایت مقام مرستیال...

۲مخ

## میدان وردګ کې د ۳ مېلیونه افغانیو په لګښت د یوه ښوونځي ودانۍ جوړه شوه



د میدان وردګ ولایت په جلریز ولسوالۍ کې د شیرخان لومړني ښوونځي نوې ودانۍ د ودانیزو چارو تر بشپړېدو وروسته د یاد ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو لخوا د ځایي اوسېدونکو، علماء کرامو او یو شمېر قومي سپین ږیرو له لوري د یو لړ مراسمو په ترڅ کې تر پرانیستو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
د میدان وردګ ولایت د پوهنې ریاست د چارواکو د معلوماتو له مخې د یاد ښوونځي ودانۍ چې احاطوي دېوال، د څښاک پاکو اوبو...

۲مخ

## افتتاح ساختمان یک باب مدرسه دینی در فراه

در مراسمی که به مناسبت گشایش مدرسه بی بی عایشه صدیقه رضی الله عنها در مربوطات ولسوالی انار دره ولایت فراه تدویر یافته بود، علاوه از محترم مولوی غوث الدین رهبر والی، مسئولین و منسوبان ریاست معارف و سایر ادارات محلی به شمول مسئولان نظامی، علماءکرام ، فرهنگیان و محاسن سفیدان ولسوالی یاد شده فراه نیز شرکت داشتند.
مسئولان ریاست معارف فراه میگویند این مدرسه به کمک مالی حاجی گل احمد خواجه یک تن از تجار ملی آن ولایت به هزینه ۶ میلیون و ۸۰۰ هزار افغانی ساخته شده که دارای ۱۰ صنف درسی، اداری، بخش های تکنالوژی معلوماتی مجهز با کمپیوتر، برق آفتابی با سایر تاسیسات و ضروریات لازمی آن می باشد.
والی ولایت فراه و سایر مسئولین در سخنان شان با بیان فراهم آوری سهولت های لازمی تعلیمی از سوی وزارت معارف برای اولاد وطن، اذعان داشتند:
با حاکمیت امارت اسلامی در کشور، لله الحمد صلح سرتاسری در کشور تامین گردیده، اطفال و جوانان ما می توانند به خاطر...



۲مخ

## افتتاح تعمیر جدید یک باب مدرسه دینی در بغلان

ساختمان جدید یک باب مدرسه دینی بنام نعمان بن ثابت رحمة الله علیه در روستای اکا خیل از مربوطات شهر پلخمری ولایت بغلان پس از تکمیل کار ساختمانی آن از سوی محترم الحاج مولوی محمد انور عزیزی رئیس و شماری از مسئولین ریاست معارف، علماء کرام، محاسن سفیدان و بزرگان قومی طی مراسم افتتاح و به بهره برداری سپرده شد.
رئیس معارف ولایت بغلان حین گشایش تعمیر مدرسه یاد شده گفت که ساخت تعمیر این مدرسه یک میلیون و ۵۰۰ هزار افغانی هزینه برداشته است که از سوی اهالی علم دوست محل کمک شده است. وی افزود: که با گشایش این تعمیر زمینه آموزش برای صدها تن از طالب العلمان شهر پلخمری فراهم گردیده است.
رئیس معارف ولایت یاد شده همچنان در مورد پلان ها و برنامه های توسعوی وزارت معارف درعموم ولایات از جمله در قراء و قصبات دور دست کشور معلومات ارائه کرده از مردم خواست تا از تطبیق این برنامه ها حمایت نمایند.
چند تن از حاضرین در محفل نیز از حمایت شان از نظام تعلیمی کشور به رهبری ریاست معارف بغلان اطمینان دادند.

## پکتیکا کې د یو شمېر ښوونځیو د ودانیو جوړېدل او بیا رغونه

د پکتیکا ولایت د پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالوکیل خالد وایې چې د دې ولایت په مرکز او یو شمېر ولسوالیو کې د ۱۵ بابه ښوونځیو د نویو ودانیو د جوړېدو چارې ۷۰ سلنه بشپړې شوې چې په راتلونکې څو اونیو پورې به یې رغنیزې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.
د پکتیکا ولایت د پوهنې رئیس زیاته کړه: د یادو ښوونځیو د ودانیو په جوړېدو شاوخوا ۱۹۲ مېلیونه افغانۍ لګښت راغلی. همداراز د پوهنې رئیس زیاته کړه چې د پکتیکا ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د یو شمېر ښوونځیو د ودانیو د بیارغونې چارې چې لګښت یې ۶۰ مېلیونه افغانیو ته رسېږي بشپړېدو ته نږدې دي چې په نږدې راتلونکې کې به یې د بیارغونې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.
د ده په وینا د یادو پروژو مالي لګښت د پوهنې وزارت سره د یوه همکار بنسټ لخوا ورکول کېږي. هغه زیاته کړه چې د یادو ښوونځیو په رغونې او بیارغونې سره به د مرکز او ولسوالیو په زرګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال را منځ ته شي.



## د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د تېرې اونۍ کړنې

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست مسئولینو په تېره اوونۍ کې، د کابل ښار د بېلابېلو ښوونیزو ناحیو اړوند له تیسول ،نیلی، روښنایي علم، کاتب، عبدالغفور، اتحادجوانان، آذرخش، ستاره آریا او حجت نابغه خصوصي ښونیزو بنسټونو څخه لیدنې وکړې او د هغوی تعلیمي وضیعت یې وارزاوه.
همدارنګه د دعوت او ارشاد ریاست مبلغینو د یادو ښوونیزو مرکزونو مسئولینو ته په یو شمېر پوهنیزو برخو کې د نیمګړتیاوو له منځه وړلو، په ورځنیو چارو کې د شرعي مسایلو په بشپړ پلي کولو او د ښوونیز کیفیت لابه والي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.
له بلي خوا د یادو مرکزونو مسئولینو د...

۲مخ

**اگر هر روز کلمه ای به دانش خود بیفزایی، پس از هر سال صدها کلمه خواهی دانست.**